# د نړۍ ۷ عجایبي

سرچینه :

بیلابیلې ویب پاڼې

Ketabton.com

ژباړن :

مختار احمد احسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ ۷ عجايبي

سرچينه:

بېلابېلي ويبپاڼي

ژبـــاړن:

مختار احمد احسان

کال: ۱۳۸۹ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاپ حقوق د ژباړن سره خوندي دي.

# د کتاب ځانګړني:


| | |
|---|---|
| کتاب | ::: د نړۍ اووه عجايبي |
| سرچينه | ::: بېلابېلي ويبپاڼې |
| ژباړن | ::: مختار احمد احسان (۱۲) |
| د ژباړن بريښناليک | ::: mukhtar.ehsan@gmail.com |
| دژباړلو نېټه | ::: د ۲۰۰۹ زېږديز کال د ډسمبر مياشت |
| کمپوز او ډيزاين | ::: پخپله ژباړن |
| انلاين چاري | ::: لراوبر ډاټ کام – www.Larawbar.com |

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

وټولو هغو افغانانو ته چي دهیواد د لرغونو ودانیو، آثارو او موادو
په خوندي کولو کي خپله ونډه اخلي.

مختار احمد احسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیــولیک


تقریظ ........ ۷

پخوانی اووه عجایبي ........ ۱۰

د منځنیو پېړیو (۱۴۰-۵۰ ع) اووه عجایبي ........ ۱۵

اوسنۍ (عصري) اووه عجایبي ........ ۲۰

۱. چیچن ایتزا - میکسیکو ........ ۲۲

۲. المسیح المخلص - برازیل ........ ۲۷

۳. کولوسیوم – ایتالیا ........ ۳۰

۴. دچین دیوال – چین ........ ۳۴

۵. ماچو پیچو – پیرو ........ ۳۹

۶. پترا – اردن ........ ۴۳

۷. تاج محل – هندوستان ........ ۴۸

سرچینې ........ ۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

بسم الله الرحمن الرحیم

گران مختار احمد احسان صاحب، سلامونه

ستاسی ژباړلی کتاب (د نړۍ ۷ عجایبی) چی زما د لیدو لپاره مو رالیږلی وو وکوت. خوښ می سو؛ یو دا، څرنګه چی ددغو عجایبو ځینی ما خپله لیدلی دي نو ماته یې زما زاړه یادونه رایاد کړل. بل داچی، دداسی کتابونو لوستنه ګټور دي. ددغه کتاب د مندرجو عجائبو په لیدو او دهغو په باره کی د معلوماتو له لاري زموږ د وخت خلک د پخوانیو خلکو او واکمنانو عظیم الشان کار او ستر هوډ ګوري چی موږ ته یو درس او ځینی وخت عبرت دی. موږ ګورو چی ځینو واکمنانو د خپل جاه و جلال د ښوولو او د نورو د تعجیزولو لپاره محیرالعقوله ماڼۍ، باغونه او بناوي جوړي کړیدي، ځینو بیا د خپل واک د تلپاته خوندي کولو په منظور د دښمن د راتلو په لار کی لوی او اوږده سنګري دیوالونه وهلی دي، ځینو د خپل دین او چا دخپلی معشوقې سره د بیکچه مینی په ثبوت کی بی مثاله ښکلی معبدونه، قبرونه او ماڼۍ درولی دي. که څوک ښه ځیر سی ددې ټولو عجائبو د رامنځته کیدو اصلی محرک عشق دی. حضرت رحمان بابا څه ښه وایي:

د همه ؤ مخلوقاتو پلار دی دا — دا دنیا ده خدای له عشقه پیدا کړې

هو، دنیا له عشق او محبته پیدا سویده او د پرمختګ راز یې هم په همدې کي نغښتي دي. یو ماشوم دخپل مور و پلار د محبت محصول دي. دغه ماشوم د مور د مینې په غیږ کي او د پلار د مهربانۍ تر سیوري لاندي لوي سي، عالم سي، مجاهد سي، قهرمان سي، او د ولس غرقه بېړۍ د نجات ساحل ته ورسوي. شخصیت، عقیده، ټولنه، وطن، امت، انساني ارزښونه، او ... ټول په عشق و محبت لاسته راتلاي سي، ساتل کیداي سي او ځلیداي سي. عشق او محبت د ژوند محرک دي او هغه ته معني ورکوي. عشق دي چي په چا ځان او جهان پیژني. دا عشق دي چي خلک په ظاهره دناشوني او خطرناکه کار و سرته رسولو ته هڅوي او په کوي یې. دا عشق دي چي خلک و قرباني او سربښندني ته وربولي. دا عشق او محبت دي چي د آزادي د لاري یو مجاهد په تش لاس د یو لوي بیرحمه وسله وال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک پر ټانکونو په خوشحالي ورزغلوي او د باروتو واسکت په اغوندي. دا عشق دی چې د نړۍ ډیر عجایب او محیرالعقول یادګارونه یې منځته راوړیدي د کوم چې تاسې څو نمونې راټولې کړیدي. د دغه کتاب مطالعه نوی نسل ته ښئي چې که څوک د ځان، ټولنې، امت او انسانیت جوړونه، ښېګڼه او غوړونه غواړي نو په کار ده چې د پوهې څنګته په ځان کې عشق پیدا کړي. عشق عجایب او په ظاهر ناشونې اسانوي.

تاریخونه دي جوړ کړي عاشقانو

هسي نه چي هر بزدله هوښیارانو

ګران مختار احمد جانه ! زه تاسې ته د دغه کتاب د تألیف مبارکي وایم او د ورته نورو ګټورو کتابونو د لیکلو توفیق درته غواړم. إنه هو السمیع الدعاء. درناوي

دکتور فاروق أعظم

کابل –۲۵ غبرګولی ۱۳۸۹هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ اووه عجايبې

# پـــيـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پخوانی اووه عجایبي

دنړۍ اووه عجایبي د نړۍ هغه اووه ځانګړي معمارۍ دي چي د جوړښت ، زړښت یا ښایست له پلوه د عجایبو په لیست کي درېدلي دي .
یونانیانو ته د ۷ عدد یوه ځانګړې معنی درلودله چي دبیلګي په توګه سره ۷ سیارې ، ۷ بېلابېل رنګونه، ۷ داونۍ ورځي، ۷ ساینسونه او داسي نور له ۷ برخو څخه تشکیل سوي شیان یادولائ سو. ځکه نو باید دنړۍ دډیر و زیاتو عجایبو معماریو څخه یوازي ۷ عجایبي ټاکل سوي وائ، هغه وو چي ددې معماریو لپاره د ۷ تعداد وټاکل سو .

پخوانی اووه عجایبي د تاریخي او یا کلاسیکي عجایبو په نامه سره هم یادیږي چي که څه هم دوې عجایبي د بابل اویزان باغونه او د خوفو هرم یې دیونانیانو لخوا نه وې جوړي سوي خو دا عجایبي ځکه په دې لیست کي شاملي وې چي د لوی سکندر لخوا یې د فتحه سویو سیمو د سرحدونو په دننه کي موجودیت درلود .

د پخوانیو ۷ عجایبو نومونه:

۱. په مصر کي د جیزه لوی هرم

۲. په عراق کي د بابل اویزان باغونه

۳. په یونان کي د زیوس (د یونانیانو رب الارباب ) مجسمه

۴. په ترکیه کي د آرتمیس معبد (کلیسا )

۵. د "هالیکېړنېسکوس " په یوناني ښار کي د "ماوسولوس " مقبره

۶. په یونان کي د رودس مجسمه

۷. په مصر کي د الیکساندر برج

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. په مصر کي د جيزه لوی هرم



۲. په عراق کي د بابل اويزان باغونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. په یونان کي د زیوس (د یونانیانو رب الارباب) مجسمه



۴. په ترکیه کي د آرتمیس معبد (کلیسا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵.** د "هالیکېړنېسکوس" په یوناني ښار کې د "ماوسولوس" مقبره



**۶.** په یونان کې د "رودس" غټه مجسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. په مصر کي د اليکساندر برج

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منځنيو پېړيو (۱۴۰-۵۰ ع) اووه عجايبې

د نړۍ د ۷ عجايبو د زياترو ليستونو په اړه ويل سوي دي چي دا عجايبې په منځنيو پېړيو کي موجودي وې. په دې ليستونو کي يادي سوي زياتره ودانۍ د منځنيو پېړيو څخه ډېر پخوا جوړي سوي دي. د منځنيو پېړيو د ۷ عجايبو ليستونه په بېلابېلو نومونو سره نومول سوي دي، لکه:

- د منځنيو پېړيو عجايبې (په دې عجايبو کي د عجايبو تعداد نامعلوم و.)
- د منځنيو پېړيو ۷ عجايبې
- د منځنيو پېړيو د فکر او د معماري فن عجايبې

د منځنيو پېړيو د ځينو بېلابېلو ۷ عجايبو نومونه:

۱. په انګلستان کي ستونهېنج (Stonehenge)
۲. د ايټاليا په مرکز روم کي کولوسيوم (Colosseum)
۳. په مصر کي د کوم هديره
۴. د چين په شمال کي د چين دېوال
۵. په چين کي د "پرسلاين" برج
۶. په ترکيه کي هاجيه سوفيا
۷. په ايټاليا کي د پيزا برج

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. په انګلستان کې سټونهېنج (Stonehenge)




۲. د ایټالیا په مرکز روم کې کولوسیوم (Colosseum)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳. په مصر کي د "کوم" هديره



۴. د چين دېوال

(c) ketabton.com: The Digital Library




۵. په چین کې د "پرسلاین" برج



۶. په ترکیه کې "هاجیه سوفیا"

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. په ایټالیا کې د "پیزا" برج

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوسنۍ (عصري) ۷ عجايبې

د ۷ عجايبو په وېبپاڼه کې د ۲۰۰۷ زېږديز کال د اګسټ په مياشت کې يو ليست، چې د نړۍ والو تعجبه معماريو څخه ۱۴ په زړه پوري معمارۍ پکښې موجودې وې، په دې نيت پرليکه سو چې د نړۍ په ګوټ-ګوټ کې به ټول وګړي خپل د خوښې معمارۍ يا ښايسته جوړ سوئ ځای انتخابوي او رايه به ورکوي، څو د رايې ورکولو وروسته ۷ زياتې رايې وړونکې معمارۍ د نړۍ د ۷ عجايبو په نامه سره ونومول سي.

د اوسني ۷ عجايبو د ټولني په وينا په دې انتخاباتو کې تر سل ميليونو ډېرو وګړو د انټرنېټ او د موبايل د پيغام (SMS) له لارې خپلې رايې ورکړې چې په نتيجه کې يې لاندې ذکر سوې ۷ عجايبې د ۲۰۰۷ زېږديز کال د ۷ مياشتې په ۷مه نېټه د پرتګال په مرکز ليسبون کې اعلان کړل سوې:

۱. چيچن ايټزا – ميکسيکو

۲. المسيح المخلص – برازيل

۳. کولوسيوم – ايټاليا

۴. د چين ديوال – چين

۵. ماچو پيچو – پيرو (پيرو د جنوبي امريکا په لويديځ کې موقعيت لري.)

۶. پترا – اردن

۷. تاج محل – هندوستان

همدارنګه د دې ۷ عجايبو سره تر څنګ په نړۍ کې د ډېرو نورو ۷ عجايبو ليستونه هم سته چې هر يو يې ځانته بېل نوم لري، د بېلګې په توګه د ځينو عجايبو د ليستونو نومونه په لاندې ډول دي :

- د نړۍ ۷ طبيعي عجايبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د امریکا د نن ورځي نوي ۷ عجايبي
- د امریکا د ملکي انجينرانو ټولنه
- تر اوبو لاندي نړيوالي ۷ عجايبي
- د نړۍ ۷ صنعتي عجايبي
- د سفر نړيوال ۷ عجايبي: دا عجيابي بيا پر دوو برخو وېشل کيږي:
  - ۱. د سفر نړيوالي طبيعي ۷ عجايبي
  - ۲. د سفر نړيوالي مصنوعي ۷ عجايبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱. چیچن ایتزا – میکسیکو

چیچن ایتزا د نړۍ د ۷ عجایبو څخه یو زړه راکښونکی تعجبه ځای دئ چي د ۲۰۰۷ زېږدیز کال د جولای د میاشتي په ۷مه نېټه د پرتګال په مرکز لیسبون کي د رسمي مراسمو په ترځ کي د نړۍ د تعجبه ځای په حیث اعلان کړل سو.

"چیچن ایتزا" د مایا دقوم یو دمهم ترینو او مشهوره ښارونو څخه یو ښار وو چي د "کوکولکان هرم" پکي واقع دئ. د کوکولکان هرم چي "ال کېستېیللو" هم ورته ویل کیږي ځیني ته ورته هرم دئ. دا هرم په میکسیکو کي یو دمشهور ترینه معماریو څخه شمېرل کیږي چي د مایا دقوم په مټ سره جوړ سوئ دئ. مایا دمیکسیکو په جنوب او د مرکزي امریکا په شمال کي اوسېدونکئ قوم دئ چي شمېر یې ۸ و ۹ میلیونو کسانو ته رسیږي.
د کوکولکان هرم هغه هرم دئ چي په څلورو خواوو کي یې ځیني جوړي سوي دي چي د هرې خوا ځیني یې بیا په خپل وار سره پوره ۹۱ ځیني لري؛ ټوله ۳۶۴ ځیني کیږي. ددې مشهوره هرم لوړوالی ۲۴ متره دئ چي دلوړي برخي په شمول یې لوړوالی ۳۰ مترو ته رسیږي. همدارازددې هرم پر سر یو معبد هم موجود دئ.
چیچین ایتزا د مایا (مایا هغه ځای دئ چیري چي د مایا قوم اوسیږي: مرکزي امریکا او جنوبي میکسیکو.) په شمال کي د کښتو اوارو مځکو سره یو سیمه ییز او مرکزي ځای وو چي بېلابېلي په زړه پوري او زړه راکښونکي معماری پکښي موجودي دي.

د چیچین ایتزا څارنه او نظارت د میکسیکو د "INAH" موسیسې لخوا کیږي او مځکه یې د بربچانو د کورنۍ مځکه ده، خو ددې ځای کنډوالې او خرابې بیا فدرالي شتمنۍ دي.

په چیچن ایتزا کي د کوکولکان د هرم څخه ماسېوا نوري په زړه پوري ودانۍ هم موجودي دي چي په لاندي ډول دي:

- لرغون پېژندونکو په ایتزا چیچن کي د "میسوامېریکن بالګېم" لپاره ډېر میدانونه تشخیص کړي دي چي یو د هغو څخه "ګریټ بال کورټ (Great Ball Court)" نومیږي. دا میدان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوکولکان هرم د شمال لوېدیځ څخه په **۱۵۰** متري کي واقع دئ چي پخوا یو د غټ ترینو میدانونو څخه شمېرل کېدئ. لرغونی میدان **۱۲۲** په **۲۸** متره کي اندازه لري او شاوخوا دېوالونو یې **۱۲** متره (**۳۹** فوټه) لوړوالی لري.



Great Ball Court

- په چیچن ایتزا کي یوه بله موجوده ودانۍ د "تزومپېنتلي" په نامه یادېږي.
- اوساریو: دا د کوکولکان هرم ته ورته هرم دئ چي پر سر یې یو معبد موجود دئ او و څلورو خواوو ته ځینې لري. ددې هرم په مرکزي برخه کي یو غار موجود دئ چي **۱۲** متره (**۳۹** فوټه) ژوروالی لري. دا غار د **۱۸۰۰** زېږدیز کال په شاوخوا کي د "ایډوارډ ایچ تومپسن" لخوا کیندل سوئ دئ. کله چي نوموړي هلته سکلیټونه، طلا او مرۍ پیدا کړې نو یې دا ودانۍ د ( The High Priests' Temple ) په نامه سره ونومول.

## د چیچن ایتزا دنامه معنی:

د چیچن ایتزا چي په انګلیسي ژبه سره ( Chich’en Itza ) لیکل کیږي معنی {د ایتزا د څاه په خوله کي} ده. د چیچن کلیمه د (Chi) او (Ch’en) څخه تشکیله سوې کلیمه ده چي د (Chi) معنی{خوله یا څنډه} ده او (Ch’en) د {څاه} معنی ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاته سوه دا يټزا کليمه: ددې کليمې ټکي په ټکي معنی (د اوبو جادوګري) ده خو دا د يوه قوم نوم هم دئ چې د شمالي جزيرې سياسي او اقتصادي واک او اختيار يې ځانته خپل کړئ وو.

## تاريخ:

د "يوکټېن "(د ميکسيکو د ۳۱ ايالتونو څخه يو ايالت دئ) په شمال کې يوه وچه پرته ده چې پکښې ټول رودونه ترمځکې لاندې بهيږي. هلته دوه غټ طبيعي ژور ځايونه موجود دي چې د سينوټس (Cenotes) په نامه سره يادېږي. په دې ځايونو او د چيچن په شاوخوا کې بې اندازې زياتي اوبه سته چې د تصفيې لپاره مناسبې وي. ددې دوو سينوټسونو څخه د "ساګرېډو سينوټس" په نامه څاه ته ورته ځای ډېر شهرت لري.

د بعضو سرچينو له مخې د ميلاد څخه مخکې دمايا قوم ددې سينوټسونو په شاوخوا کې قربانۍ ورکړې دي.

سرچينې زياتوي چې د ۱۹۰۴ زېږديز کال څخه تر ۱۹۱۰ زېږديز کاله پورې د "ساګرېډو سينوټس" د پاکېدو پر مهال په چيچن ايټزا کې طلا، پشم، شنه کاڼي، کولالي او د انسان دبدن خاوري سوی برخي موندل سوي دي.



د ساګرېډو سينټوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوکولکان هرم




د چیچن ایتزا مرکزي نقشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوکولکان د هرم ختیځ خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲. المسیح المخلص – برازیل

"کریستې د ریډیمر(Christ the Redeemer) "د برازیل د "ریو د جېنایرو " په ښار کې د نړۍ په کچه د عیسی مسیح یوه مشهوره مجسمه ده چې د "کورکواډو " د غره پر څوکه د "تیجوکا فورېسټ" په ملي پارک کې موقعیت لري. د کورکواډو غر د ۷۰۰ مترو (۲۳۰۰ فوټو) په اندازه جګوالی لري.

نوموړې مجسمه ۳۰ متره (۹۸ فوټه) پلنه او ۲،۳۹ متره (۱۳۰ فوټه) جګوالی لري چې وزن یې ۶۳۵ ټنو ته رسیږي. د "بولیویا" د "کوچاباامبا" په ښار کې تر دې مجسمې یوه بله جګ ترینه مجسمه موجوده ده چې نوم یې "کریستیو د لا کونکورډیا" دئ. دا مجسمه بیا ۴۴،۴۰ متره (۷،۱۳۲ فوټه) جګه او ۲۰،۳۴ متره (۲،۱۱۲ فوټه) پلنه ده.

خو د کریستې د ریډیمر مجسمه د برازیل د کاتولیک لپاره یو ډېر مهم سمبول او رمزوواواوس هم دئ. دا مجسمه د کانګریټو او نورو ټینګو موادو څخه جوړه سوې ده.

د کورکواډو د غره پر سره د یوې جګې مجسمې د جوړولو نظر په لمړي ځل د ۱۸۵۰ زېږدیز کال په نیمایي کې رامنځته سو، دا هغه وخت وو کله چې کاتولیکي ملا "پیډرو ماریا بوس" د شهزادګۍ ایزابېل څخه درخواست وکړ چې نوموړې دې د یوه ستر مذهبي منار د جوړولو په برخه کې مالي مرسته وکړي. شهزادګۍ ایزابېل و دې نظریې ته د عملي بڼې ورکولو په اړه هیڅ فکر ونه کړ. کله چې د دولت او کلیسا ترمنځ په ۱۸۸۹ زېږدیز کال کې د جلاوالي قومانده رامنځته سوه نو دا پلان په مکمله توګه سره پاته سو.

ورپسې دوهم پیشنهاد د کاتولیک "سیرکل آف ریو " په واسطه سره په ۱۹۲۱ زېږدیز کال کې وسو چې د غره پر سر به یوه مجسمه جوړوي. د کاتولیک دې ډلې د (Semana do Monumento) په نامه سره یو پروګرام جوړ کړ څو د خلکو څخه لاسلیکونه ټول کړي چې د دې مجسمې د ودانولو کار به حمایه کوي. همدا راز د دې پروګرام هدف د خلکو هڅول هم وه، څو خلک خپله هم تر خپله وسه مالي مرسته وکړي. ویل کیږي چې د برازیل کاتولیکانو د دې مجسمې په جوړولو کې تر ټولو زیاتې مالي مرستې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجسمې په ډیزاین کې په پام کې نیول سوي وه چې د عیسوي مذهب نښه به پکښې موجوده وي او د عیسی مسیح په لاسونو کې به د نړۍ نقشه وي. خو په پای کې د ټولو مشورو څخه وروسته انتخاب په دې ډول سو چې په مجسمه کې به عیسی مسیح ولاړ وي او دواړه لاسونه به یې خلاص نیولي وي.

د انجینر "هایټور ډا سیلوا کوسټا "لخوا ددې مجسمې ډیزاین جوړ سو او د مجسمې کاڼي توږونکی (سنگ تراش) یې فرانسوی کاڼي توږونکی "پاول لانډوسکي "وو. ددې ښکلي او زړه راکښونکي معمارۍ جوړښت نهه کاله په بر کې ونیول (د ۱۹۲۲ زېږدیز کال څخه بیا تر ۱۹۳۱ زېږدیز کاله پوري).
د مجسمې ټوله مالي لگښت ۲۵۰۰۰۰ ډالره وو او د ۱۹۳۱ زېږدیز کال داکتوبر دمیاشتې په ۱۲ نېټه چې د ۱۳۱۰ زېږدیز کال د میزان دمیاشتې د ۱۹ نېټې سره سمون خوري پرانستل سوه. ویل کیږي چې په دې ورځ مجسمه باید د یوې بېټرۍ په وسیله سره روښانه سوې وائ خو د خرابي هوا له کبله مجسمه په "ریو "کې د کارکوونکو لخوا روښانه سوه.

د ۲۰۰۶ زېږدیز کال داکتوبر په میاشت کې چې د "کریسټ د ریډییمر "د مجسمې ۷۵مه کلیزه وه د "ریو "د ښار ستر پادري "کارډینل ایورسبیو اوسکار شاید "تر مجسمې لاندې یوه وړه کلیسا په نښه کړه چې په نتیجه کې یې ټولو د کاتولیک مذهب لارویانو ته اجازه ورکړه سوه چې هلته د ماشوم د تعمید غسل او د واده مذهبي مراسم ترسره کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳. کولوسیوم – ایټالیا

کولوسیوم یا "رومن کولسیوم" چې لومړی د "فلاوییِن امپیتیاتر" په نامه سره یادېده د ایټالیا د مرکز د روم په مرکزي برخه کې موقعیت لري. کولوسیوم یو "آمپې تیاتر" یعني یو سټېډیوم ته ورته میدان دئ چېرې چې په زرګونو کسانو د سپورټ په شمول زیات نور مراسم تر سره کېږي. دا تیاتر چې د رومي معمارۍ او رومي انجینرۍ یو د بهترینو ودانیو څخه شمېرل کېږي د روم په امپراطورۍ کې تر ټولو غټ ترینه تیاتر دئ. د آمپې تیاتر کلیمه چې په رومي ژبه یې داسې (Amphitheatrum Flavium) لیکي د دوو رومي امپراطورانو "وېسپاسیین" او "ټیټوس" د کورنۍ د نامه څخه تشکیله سوې کلیمه ده.

ددې ودانۍ کار د میلاد څخه وروسته د ۷۰م او ۷۲م کال په منځ کې د "وېسپاسیین" د امپراطورۍ په دوره کې پیل سوئ دئ چې د میلاد څخه وروسته یې په ۸۰م کال کې، د "ټیټوس" د امپراطورۍ په دوره کې، کار پای ته ورسېد، خو د یوولسم رومي امپراطور "ډومیشین" په دوره (۸۱-۹۲) کې یې سمون سوئ او بعضې بدلونونو پکښې رامنځته سوي دي. هېره دې نه وي چې د کولوسیوم د پرانستلو په مراسمو کې ببلابېلو لوبو تقریبا سل ورځې ادامه درلوده.

کولوسیوم چې د هګۍ شکل ته ورته بڼه لري ۱۸۸ په ۱۵۲ مترو کې مځکه اشغال کړې چې محیط یې ۵۲۷ متره مربع ته رسیږي. ددې ودانۍ بهرني دېوالونه ۳ قطاره لري چې هر قطار یې بیا په خپل وار سره نیمې دایرې ته ورته ۸۰ ګولایانې لري. په ودانۍ کې ۷۲ د داخلېدو دروازې موجودې دي او دننه پکښې ۵۰۰۰۰ تماشه چیان ځایېدلائ سي.

کولوسیوم په پخواني روم کې د "کلاسیکل میتولوژي" پر بنسټ د ډرامو، اعدام، د حېوان د ښکارولو او بعضو نورو شیانو سره تر څنګ د پخواني روم د مقابلو (Gladiatorial contests) لپاره استعمال کېده. د پخواني روم د مقابلو (contests Gladiatorial) مقصد د خلګو یا تماشه چیانو ساعت تېرۍ وو چې یوه سړي به د یوه بل کس او یا حیوان سره جنګ کاوه. ددې څخه زیاته موده وروسته د کولوسیوم څخه د ورکشاپو، د نظامي او جنګي کلا او بعضې نورو کارونو لپاره استفاده کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځینو سرچینو له مخې اټکل کیږي چې په کولوسیوم کې د کولوسیوم دګېمونو (لوبو ) له امله پنځه سوه زره انسانان او د یوه میلیون په شاوخوا کې حیوانان له منځه تللي دي.

د ۱۲مې او ۱۷مې پېړۍ په شاوخوا کې په کلیسا پورې اړوندو ادارو امر وکړ چې د پراخ کولوسیوم څخه دې په یوه داسې ډول استفاده وسي څو د وطن اقتصادي وضعه نوره هم ښه سي. هغه وو چې د رومن کاتولیک مذهب لوی پېشوا "پوپ سیکستوس" یو نوی پلان جوړ کړ چې د کولوسیوم څخه به د وړۍ فابریکه جوړوي څو په روم کې د ټولو زنا کونکو ( فاحشو ) لپاره د کار زمینه مساعده کړي.خو دا چې نوموړی دده پیشنهاد د وړاندي کولو څخه وروسته په لنډ وخت کې د نړۍ څخه وکوچېد نو د کولوسیوم څخه د وړۍ کمپنۍ جوړه نه سوه.
ورپسې په ۱۲۷۱ زېږدیز کال کې "کېرډینل الټیئري" په کولوسیوم کې د غوییانو د جنګولو اجازه ورکړه چې حالات یې نور هم ککړ کړل.

په ۱۷۴۹ زېږدیز کال کې "پوپ بېنېډیکټ XIV " د یوې رسمي کلیسا د پالیسی په حیث دا تصدیق کړه چې د کولوسیوم څخه په پخوا وختونو کې د یوداسې ځای کار اخیستل کېده چیرې چې به عیسویان له منځه تله او ویجاړېده. ددې حکم د صادرولو په نتیجه کې په کمه موده کې په کولوسیوم کې ښکار منع کړل سو. "پوپ بېنېډیکټ XIV "د کولوسیوم څخه د ( Passion of Christ = د عیسی سره مینه) تعمیر په شاني کار اخیسته او د صلیب په شاني یې زیات نور مرکزونه هلته جوړ کړل.
د کولوسیوم څخه ډیرو امپراطورانو او ولسمشرانو د خپلي خوښي کار اخیستئ دئ چې په نتیجه کې یې هلته ښېلابیلي پیښې واقع سوي دي.


د ډیرو لاریونو سره ترڅنګ په ۲۰۰۰ زېږدیز کال کې د اعدام پر ضد غټ لاریونونه هم د کولوسیوم مخته وسوه.

دا مشهوره او زړه ته راکښونکې ودانی نن سبا د روم د مشهوره ترینو سېل ځایونو څخه شمېرل کیږي چې هر کال په زرګونو ګرځندویان ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په روم کي د يوه باغ څخه د کولوسيوم منظره



د کولوسيوم دننه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولوسيوم په شپه کي



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴. د چين ديوال – چين

د چين ستر دېوال د چين په شمال کي يو ډبرين او خاورين دېوال دئ چي د ميلاد څخه مخکي د پنځمي او شپاړلسمي پېړۍ په منځ کي جوړ سوئ دئ. دېوال په دې نيت جوړ کړل سو چي د بېلابېلو پادشاهي دورو په جريان کي به د چين د امپراطورۍ د شمالي سرحدونو دفاع کوي. د چين د ستر دېوال څخه ماسېوا د پنځمي پېړۍ څخه را پد ېخوا راز-راز نور دېوالونه هم معمار سوي دي چي د چين د ستر دېوال سره په مقايسه يې کيفيت ښه نه دئ، د ېېلګي په توګه سره د چين د امپراطور "قين شي هوانګ" په امر جوړ سوئ دېوال يادولائ سو چي د ميلاد څخه مخکي د ۲۰۶ او ۲۲۰ کلونو په منځ کي جوړ سو.

د چين دېوال په ختيځ کي د "شانهاګوان" څخه بيا په لوېديځ کي تر "لوپ نور" پوري غځېدلئ دئ. د لرغون پېژندني پراخي سروې د عصري پرمختللو تخنيکونو په وسيله سره په تيرو نژدې وختونو کي دا معلومه کړه چي دا دېوال ۸۸۵۱،۸ کيلو متره (۵۵۰۰،۳ ميله) اوږدوالی لري. دد ې فاصلې څخه يې د ۶۲۵۹،۲ کيلو مترو (۵،۳۸۸۹ ميلو) په اندازه برخه خپله دېوال نيولې، د ۷،۳۵۹ کيلومترو (۵،۲۲۳ ميلو) په اندازه برخه يې مرچلونو او د پاته ۵،۲۲۳۲ کيلومترو (۲،۱۳۸۷ ميلو) په اندازه برخه يې طبيعي او دفاعي سيمو، لکه غونډيانو او سيندونو، اشغال کړې ده.

### د چين د دېوال لنډه تاريخچه:

چينايان د ميلاد څخه مخکي په اتمه پېړۍ کي د "دوبي او د مني" په دوره کي لا د دېوال د جوړولو تخنيکونو سره بلد وه. د ميلاد څخه مخکي د پنځمي پېړۍ څخه بيا تر ۲۲۱ پېړۍ پوري د "قي" او "ژاو" دولتونو يو پلان جوړ کړ چي د خپل هيواد د سرحدونو دفاع به په يوه ډېره بهترينه او فوق العاده توګه سره کوي. د هغوی نظر داوو چي يو داسي شی به جوړوي چي د کوچنيو حملو او د تورو د جنګونو په مقابل کي ښه رول ولوبوي.
"قين شي هوانګ" چي کله ټوله مخالف ايالتونه فتح کړل نو يې د ميلاد څخه مخکي په ۲۲۱ کال کي ټوله چين سره يو کړ او د "قين د کورنۍ (Qin Dynasty)" بنسټ يې کښېښود. امپراطور د خپلي امپراطورۍ د دفاع په خاطر امر وکړ چي يو نوی دېوال بايد جوړ کړل سي چي د شمال نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولي او سرحدونه د نورو سنګرونو سره ونښلوی څو د شمال څخه د "کسیونګنو" د وګړو د راتګ مخه ونیسي. دد ېوال د جوړولو په پیل کي لومړی یوازي د خاوري څخه کار اخیستل کېده خو د وخت په تېرېدو سره د کاڼو او ډبرو څخه هم ګټه پورته سوه چي د ډبرو څخه د استفادې سره سم یې د ځارني برجونه ورغول.
په ډېرو سختو حالاتو کي تر یونیم میلیون زیاتو وګړو دد ېوال په جوړولو کي ونډه واخیسته او همدارازو یل کیږي چي په هر متر کي یوه کس خپل ژوند دلاسه ورکړئ دئ.

د "ټانګ د کورنۍ (Tang Dynasty) " په وخت کي د ېوال د خطر سره مخ وو خو د ۱۳۶۸ او ۱۶۴۴ زېږدیز کال په منځ کي د "مینګ د کورنۍ (Ming Dynasty) " په دوره کي د د ېوال د بیا جوړوني پروژې پېل او پای ته ورسېدې او علاوه پر دې د ېوال نور هم اوږد کړل سو. همداشان په دې زمان کي دد ېوال په شاوخوا کي جلا او ټوټې-ټوټې جوړ سوي د ېوالونه هم ددې ستر د ېوال سره یوځای سول.
د چین د په زړه پوري او زړه راکښونکي ستر د ېوال ساتنه د شاوخوا زرو کلاوو او د څارنو د برجو څخه کېده. کله چي به دد ښمن قواوي و د ېوال ته رانژدې کېدې نو به دد ېوال ساتونکو د پروړو، انبارو او لرګو څخه اور بلاوه څو دد ښمن مخه ونیسي او د ښمن ته زیان ورسوي.

سل کاله وروسته لا دهون نژاد ماته نه وه خوړلې، هغه وو چي "مینګ" د مغولو او مانشو (Manchus) سره نابوده جنګونه وکړل. د یادوني وړ ده چي مغول او مانشو د هون د نژاد د نسل څخه شمېرل کیږي. خو د وخت په تېرېدو سره اخیر د چین د ستر د ېوال کار پای ته ورسېد او د ېوال، دد ېوال جوړونکو او ددې د ېوال بنسټ ایښودونکو د چین او د نړۍ په تاریخ کي ځان ته ځای خپل کړ. هېره دې نه وي چي د د ېوال د کار د تمامېدو څخه وروسته کوچیانو ته په جایزه کي په زرګونو کیلومتره مربع مځکه ورکول سوه.

اوس د ېوال په ډېرو ځایونو کي ویجاړ دئ چي له امله یې ګرځندویان اجازه نه لري چي دد ېوال په ځینو ځانګړو او نیم - ویجاړ ځایونو کي وګرځي.
د ېوال په لسګونو غټي دروازې لري چي په ختیځ کي یې د "بوهایي" د سیمي د سرحد سره د "شانهایګوان" په نامه یوه دروازه موجوده ده او په لوېدیځ کي یې د "جیایوګوان" په نامه دروازه موقعیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د لمرلوېدو پر مهال د ستر دېوال منظره





د (Qin Dynasty) د ستر دېوال نقشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژمي په موسم کي پېکينګ ته نژدې د چين د ستر دېوال يوه برخه



په ۱۹۰۷ زېږديز کال کي د چين د ستر دېوال يو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چین د ستر دېوال یوه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۵. ماچو پیچو – پیرو

"ماچوپیچو خپله د "ماچو پیچو "او د "هواینا پیچو "(پښتو معنی: ځوان غر) په نامه دغرونو په منځ کي راښکېله سیمه ده چي د ۱۷۵۰ مترو په اندازه لوړ د "اروبامبا "په نامه رود پکي بهیږي.
ماچوپیچو چي د "د لاسټ سیټي آف د اینکاس(the Lost City of the Incas) "په نامه سره هم یادیږي د امریکا په جنوب لوېدیځ کي د "پیرو "د "ایروبامبا "په تنګي کي د یوه غره پر سر موقعیت لري. په کچوایي ژبه ماچو پیچو "د یوه زاړه سړي هسکوالی "معنی ورکوي.
ماچو پیچو د "اینکا "په نامه دوګړو یو ښاروو چي د سمندر د سطحي څخه ۲۴۳۰ متره (۸۰۰۰ فوټه) لوړ موقعیت لري. همدارازدا ځای د اینکا د امپراطوری یو دمشهوره ترینو ښو ښانو څخه هم شمېرل کیږي.

تائید سوي سرچیني وايي چي د ۱۴۴۰ زېږدیز کال په شاوخوا کي د "پاچاکوتي "د سلطنت په دوره کي د ماچوپیچو د جوړولو پروژې پېل سوي دي. په دې ځای کي د هسپانویانو ترفتحي، یعني تر ۱۵۳۲ زېږدیز کاله پوري، وګړي اوسېدل. پوهان په دې عقیده دي چي دا ځای د کوم ځانګړي هدف لپاره نه دئ جوړ سوئ ځکه چي ددې ځای د ورتګ لاري ډیري خرابي دي. هغوی په دې باور دي چي دا ځای په پخوا وختونو کي د امپراطورانو، پادشاهانو او نورو پرمختللو خلکو د مېلې او ساعت تیري ځای وو. دا ځای د پرمختللو خلکو، مشرانو او دهغوی د نوکرانو لپاره ودانۍ لري او پکښي د ۷۵۰ تنو په شاوخوا کي خلک دشپې پاتېدلائ سوائ. دیادوني وړ ده چي کله چي به د باران داورېدو په وخت کي هلته پادشاهان نه وه نو به نور وګړي زیات کم او یا هیڅ نه لیدل کېدل.
کله چي د اینکا سلطنت ماته وخوړه نو ماچوپیچو ته د اوږدې مودې لپار تګ راتګ بند کړل سو او ښار به اکثره وخت ایله – بېله ولاړ وو.

همدارنګه یوه بله ډله پوهان بیا وايي چي ماچوپیچو د اینکا د سلطنت د دفاع لپاره یوه جوړه سوې کلا وه او کله چي هسپانویان راغلل نو د اینکا وګړو ضرورت نه درلود چي دې کلا ته بیا ولاړ سي او دخپل سلطنت دفاع وکړي نو یې په نتیجه کي تګ – راتګ بند سو. خو دا دلیل بیا په دې سره یو ناکام دلیل دئ چي وايي د ماچوپیچو موقعیت داسي یو موقعیت نه وو چي دهغه ځایه څخه دې د اینکا دسلطنت دفاع سوې وائ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سي هم ویل کیږي چي دا هغه ځای و چیري چي به د کوکاین بلګونه راټولېدل، ځکه هلته د کوکاین ډیري کروندې موجودي وې. خو دا خبره بیا په دې سره کمزوره کیږي چي وایي د هسپانویانو د راتګ څخه وروسته خو هم هلته دکوکاین کروندې موجودي وې نو بیا دې سیمي ته تګ راتګ ولي بند سو.

په تیرو نژدې وختونو کي دا معلومه سوه چي په ۱۸۶۷ زېږدیز کال کي جرمني کان لټونکي او دلرګو سوداګر "اوګوستو بېرنس" د پیرو ددولت په اجازه سره دا غرنی ښار پیدا و لوټ کړ او همدا شاني یې ددې ځای لرغوني خزانې و اروپایي موزیمونه ته ورکړې.
په ۱۹۱۱م زېږدیز کال کي تاریخ پوه "هیرام بینګام" د اینکا په وګړو او امپراطورۍ پسي یوه څېړنه پېل کړه چي ددې څېړني په سفر کي یې ماچوپیچو ددوهم ځل لپار پیدا (کشف) کړ.
دا ځای هغه وخت دنړۍ په کچه مشهور سو کله چي په ۱۹۱۳ زېږدیز کال کي د نېشنل جیوګرافیک چېنل ددې ځای په اړه بشپړ معلومات نړۍ ته وړاندي کړ او په ۱۹۸۳ زېږدیز کال کي دې ځای ته د یونیسکو د جهاني میراث په لیست کي ځای ورکړل سو.

دا د غرو - رغونو په منځ کي زړه راکښونکې شنه سیمه چي نړیوال شهرت لري د ګرځندویانو لپاره ډېر مهم ځای دئ او هر کال د ۴۰۰۰۰۰ په شاوخوا کي ګرځندویان دې ځای ته سفر کوي. خو یونیسکو د ګرځندویانو په دې شمېر سره خوشحاله نه ده، ځکه د یونیسکو ډله بیریږي چي ماچوپیچو ته به د ډیرو ګرځندویانو د تګ راتګ له امله نور زیان هم ورسیږي.
همدا راز د ۱۹۹۰ زېږدیز کال راهیسي دې سیمي ته نژدې هوټلونه او دوکانونه جوړ سوي دي چي د ګرځندویانو د اړتیاوو په پوره کولو کي پوره رول لوبوي. ماچوپیچو ته په پخوا وختونو کي ورتګ ځو ورځي په بر کي نیولې خو په عصري نړۍ کي ځوک هلته دبس او اورګاډۍ په وسیله سره په ډېر لنډ وخت کي تلای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هواینا پیچو (ځوان غر) دسر څخه د ماچو پیچو منظره



په ماچو پیچو کې د اینکا د قصر مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماچوپیچو په ۱۹۱۱ز کي



دماچوپیچو په شاوخوا کي د شنو غرونو او خپله دماچوپیچو منظره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲. پټرا – اردن

لرغونی ښار پټرا د اردن و جنوب ته نژدې ددې هیواد په ختیځ کې د غونډیو په یوه تنګۍ کې موقعیت لري. پټرا چي په عربي ژبه د البترأ په نامه سره یادیږي د "نباطیانسیانو (الأنباط) "د مرکز یوناني نوم وو. "نباطیانس (الأنباط) "دجنوبي اردن دعربو او دعربستان په شمال کې د سامي خلګو یوه ډله وه. د پټرا په ښار کې شاوخوا ټوله ودانۍ، چي پخوا جوړي سوي وې، وراني سوي دي.
دا ښار د تجارت او سوداګرۍ څلورلارې بللائ سو، ځکه چي د یمن څخه د "بخور" بوټي ددې لارې و ایران، سوریې، روم او یونان ته انتقالیږي. د بخور بوټي هغه بوټي دي چي په خونو او یا نورو ځایونو کې د ښه بوی درامنځته کولو لپاره لګیږي. په پټرا کې د سوداګرانو د مالي حاصلاتو له امله د پټرا چارواکي ښه شتمن سول چي په پټرا کې له دوی څخه پاته سوي ودانۍ د هغوی د شتمنتوب نښې بلل کیږي.

نباطیانس (الأنباط) ډیره موده خپله پادشاهي وکړه خو په ۱۰۲ کال کې د روم امپراطوری ماته ورکړه او دا سیمه د "عربیې" ولایت یو ښار وګرځېد.
پټ هندي سوداګر سویسزرلېنډي "جېن لاوس بورکهاردت" په ۱۸۱۲ زېږدیز کال کې پټرا د غربي نړۍ لپاره ددوهم ځل لپاره کشف کړه، په داسي حال کې چي دا مهال د پټرا ښار وران سوئ و.
د شلمي پېړۍ په شلمو کلونو کې دلرغون پېژندني لپاره د پټو شیانو د راسربېره کولو په نیت کیندني پېل سوې. په پټرا کې لومړنۍ پلټني او کیندني په ۱۹۲۹ زېږدیز کال کې ترسره سوې چي په ۱۹۳۵، ۱۹۳۷ او ۱۹۵۴ ز کلونو کې پر مخ ولاړې. همدارنګه په ۱۹۵۸ ز کال کې د لرغون پېژندني برتانوی ښوونځی د پټرا د مرکز په کیندلو او پلټلو سره پېل وکړ. ددې وخت څخه بیا تراوسه پوري په دې سیمه کې لرغون پېژندونکي په پلټنو بوخت دي.
هېره دې نه وي چي د قران الکریم د الفجر په سورت شریف کې دا ځای د ثمود په نامه سره ذکر سوئ دئ.

## د پټرا مهمي او لرغوني ودانۍ:

- د پټرا لویه مانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د روم سړک
- المهلمه
- لوړ دقربانۍ ځای
- د خزنې: چې د خزانې خونه هم ورته ویل کیږي په پترا کې تر ټولو مشهوره ودانۍ ده چې د میلاد څخه مخکې په ۸۴م او ۸۵م کال کې جوړه سوې ده. زیاتره پوهان په دې عقیده دي چې دا ودانۍ د "نباطیانس" د سردار "اریتاس III" په امر سره جوړه سوې ده. د "دخزنیې" د ودانۍ مخ څلویښت متره لوړوالی او ۲۵ متره پلنوالی لري.همداشاني څېړونکو او پوهانو په تیرو لنډو وختونو کې دا په ګوته کړې ده چې د "دخزنیې" د ودانۍ جوړولو فقط ۳ میاشتې په بر کې نیولې دي. پام رااړونکې خبره داده چې دهغه وخت د معمارۍ دتخنیکونو په وسیله سره د یوې داسې ودانۍ جوړول یو ډېر غټ او ښېل کار دئ.
- دیرالبلح (صومعه: مانۍ، چیرې چې روحانین اوسیږي): صومعه په پترا کې تر ټولو غټه ودانۍ ده چې د ښار د مرکزي بازار په شمال لویدیځ کې په یوه غره کې موقعیت لري. دا ودانۍ د سردار "اوبوډاس I" معبد و.
- د پترا کلیسا: چې په انګلیسې په (Petra Church) نامه سره مشهوره ده د پنځمې پېړۍ په پای کې جوړه سوې کلیسا ده چې د جوړولو دوخت څخه یې بیا پنځوس کاله وروسته د بیاجوړونې پروژې ترسره سوې. ددې کلیسا اندازه ۲۲ په ۱۵ متره کې ده.دمیلاد څخه وروسته د ۷۰۰ کال په شاوخوا کې دا کلیسا په مکمله توګه سره وسوځېدل او ورپسې په لنډ وخت کې د یوې زلزلې له امله ورانه سوه. په ۱۹۹۳ زېږدیز کال کې د پترا د کلیسا په یوه کنج کې ۱۵۲ د "پاپروس لولې" پیدا سوې; دې لولو ته "پترا لولز" هم ویل کیږي. پاپروس یو ډول مصري بوټی دئ چې اوږدې پاڼې لري او په اوبو کې راشین کیږي.


په تیرو نژدې وختونو کې ددې کلیسا په شاوخوا کې نورې کلیساوې هم کشف سوې دي چې په اړه یې یې لاتراوسه زیات معلومات نسته. دا تازه کشف سوې کلیساوې پوهانو د "شنې کلیسا" او د "خط الراس کلیسا" په نامه سره نومولې دي.

- او ځیني نورې ودانۍ...

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپترا لرغونی ښار په ۱۹۸۵ زېږدیز کال کي د یونیسکو د جهاني میراث په لیست کي ثبت کړل سو. دا ځای د ګرځندویانو لپاره د راز- راز لرغونو ودانیو او تاریخي اثارو د لرلو له امله ډېر مهم دئ.

د "اردن ټایمز" یو راپور لیکي چي د ۲۰۰۲ ز کال د نومبر او ډسمبر په دوو میاشتو کي پترا ته ۵۹ زرو کسانو سفر وکړئ او زیاتوي چي دګرځندویانو دا شمېره د ۲۰۰۵ زېږدیز کال د شمېرې څخه ۲۵ سلنه کمه سوې ده.




الخزنېه (دخزانې خونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library




جــــــــرة قبــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیرالبلح(صومعه)



پـــتــــرا ته تللې لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۷. تاج محل – هندوستان

تاج محل د هندوستان په شمال کې د "اوتار پرادش" د ایالت د "اګرا" په ښار کې د ممتاز محل پر مقبرې یوه جوړه سوې ښکلې ودانۍ ده چې د مغول دامپراطور شاه جهان په امر سره د هغه د ماندینې ممتاز محل په یاد جوړه سوه.
ممتاز محل چې د ۱۵۹۳ زېږدیز کال د اپریل په میاشت کې زېږېدلې وه د ۱۶۳۱ ز کال د جون دمیاشتې په ۱۷مه نېټه د نفاس په دوره کې په حق ورسېده.
شاه جهان چې د ۱۵۹۲ ز کال د جنورې پر پنځمه دلاهور په ښار کې زېږېدلئ دئ په ۱۶۳۱ ز کال کې د مغولو دامپراطورۍ ددورې په ستره خوښې کې هغه وخت د غم پر تږغر کښېناست کله چې یې دربیمه ماینه، ممتاز محل، د څوارلسم کوچني "ګوهاره بېګم" د زوکړې پر مهال دابد لپاره دنړۍ څخه سترګې پټې کړې. ویل کیږي چې پر امپراطور شاه جهان باندې په خپلو ښځو کې ممتاز محل ډېره ګرانه وه.

د ممتاز محل د مړنې څخه پوره یو کال وروسته په ۱۶۳۲ زېږدیز کال کې دهغې د مقبرې د ودانۍ کار پیل سو. په زرګونو کسب ګرانو او صنعت ګرانو ددې ودانۍ په جوړولو کې کار وکئ. د ودانۍ د ډیزاین لپاره عبدالکریم مأمورخان، مکرامات خان او کندهاري انجینر استاد احمد لاهوري خپل ډیزاین پېش کړ، هغه وو چې د استاد احمد لاهوري ډیزاین د واکمنو خوښ سو. په ۱۶۴۸ زېږدیز کال کې دممتاز محل دمقبرې کار پای ته ورسېد او ددې څخه پنځه کاله وروسته دمقبرې په شاوخوا کې د باغ او نورو تعمیرونو، لکه دروازه-روزه، کار پای ته ورسېد.

"جین-بېپټیسټ ټېورنیر" زیات کوښښ وکړ چې د "یامونا" په نامه د سیند پر مقابل طرف تاج محل ته ورته یوه بله ودانۍ جوړه کړي، چې هغه به خپله دمغولو دامپراطور لپاره وي او ټوله به د تور مرمر څخه جوړه وي. خو کله چې په ۱۶۶۶ زېږدیز کال کې شاه جهان دبندیتوب پر مهال ومړ، نو دا کار هیڅ ترسره نه سو او شاه جهان د مړنې څخه وروسته په تاج محل کې د ممتاز محل څنګته خاورو ته وسپارل سو. د شاه جهان او د ممتاز محل د قبرو سرونه د تابوت په شان جوړ سوي دي؛ چې د شاه جهان دقبر سر د ممتازمحل دقبر تر سر لوړ دئ او همداراز د ممتاز محل مقبره ۵،۱ په ۵،۲ متره کې جوړه سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج محل **۵۲** متره پلن ، **۵۸** متره لوړاو په لس زره متره مربع مساحت کې له سپینو مرمرو څخه جوړ سوئ دئ. د تاج محل په شاوخوا کې څلورې منارې ډیره موده وروسته جوړې سوې، چې لږ څه کږې دي؛ هغه په دې چې که کله زلزله وسي نو به منارې پر تعمیر نه چپه کیږي. د تاج محل ختیځ ته یو مسجد او په لوېد ېځه برخه کې یې یو مېلمستون جوړ سوئ دئ.
ددې ودانۍ سره د چهارباغ یا مغول باغ په نامه یو باغ هم سته چې په **۳۰۰** متره مربع مځکه کې جوړ سوئ دئ او تاج محل ته لا ښکلا وربخښي.

د نړۍ په کچه مشهوره او لرغونی تاج محل هر کال د **۲** څخه تر **۴** میلیونو پوري ګرځندویان ځانته رابولي چي زیاتره ګرځندویان هلته د اکتوبر، نومبر او فبروري په میاشتو کي سفر کوي، ځکه چي په دې وخت کي هلته هوا مناسبه وي. تاج محل د هفتې په ټولو ورځو کي د سهار د **۶** بجو څخه بیا د ماښام تر **۷** بجو پوري د ګرځندویانو او لیدونکو پر مخ خلاص وي، خو د جمعې په ورځ د ماپښین د**۱۲** بجو څخه بیا تر **۲** بجو پوري هلته عبادت یا لمونځ کونکي موجود وي.
په **۱۹۸۳** زیږدیز کال کي تاج محل د یونیسکو د جهاني میراث په لیست کي ځان ته ځای خپل کړ.




د تاج محل ودانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاج محل ته د داخلیدو دروازه (دروازه-روزه)



د تاج محل مسجد


(c) ketabton.com: The Digital Library



د ممتاز محل او شاه جهان دمقبرو پر شاوخوا جوړه سوې پنجره



د "یامونا "د سیند دهاخوا څخه دتاج محل یو انځور



د شاه جهان او ممتاز محل مقبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرچينې

ددې کتاب د ژباړلو پر مهال د لاندينيو ويبپاڼيو څخه معلومات راټول سوئ او ورپسې ژباړل سوئ دئ:

- د انګليسي ويکيپيډيا
- د هالنډي ويکيپيډيا
- نيو سېون ونډرز ډاټ کام

## د ژباړن آثار (ناچاپ):

| | | |
|---|---|---|
| ۱. زمـا سوی ! | د ماشومانو لپاره | ژباړه |
| ۲. فټبالـر | د ماشومانو لپاره | ژباړه |
| ۳. کـره کـي سپی | د ماشومانو لپاره | ژباړه |
| ۴. سـره زر | د ماشومانو لپاره | ژباړه |
| ۵. د نړۍ اووه عجايبې | همدا آثر | ژباړه |
| ۶. دنوبل جايزه او ګټونکي يې* | ژوندليکونه او ... | ژباړه |
| ۷. درې ماشومان او يو ستوری | نـاول | ژباړه |

د نوبل جايزه او ګټونکي يې*: دغه آثر تر اوسه بشپړ نه دئ، خو په لنډه موده کې به يې ژباړه مکمله سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پــــــای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**